# دلاری ګمراه

ته د وهم په دنیا کي چور له عقله بیګانه یي
د خیالی حوروکوثر پسی بیخوده دیوانه یي
نه د حور سره یی ناست نه هغه دی لیدلي
د ملا چرند یاتو ته ډیر په ځیر یو سامعه یي
ته د ښکلو د نخرو سره نفرت کی یی لوی شوي
ته په ذات اوپه سرشت کي یومعیوبه معجزه یی
د یو ښکلي په کتو سره خولو کی خپل ډوبیږي
ته د ښکلو له اداګانو عادتا بی بهره یي
ستا ماغذه لا اومه دی وده هیڅ نه دی کړي
چی د تور اوسپین تمیز کی لارورک بیچاره یی
ته لا تراوسه دی پیړۍ کي پرازیت یی دټولنه
که هویت ته دی خپل ځیرشي ته اصیل ملازاده یی
ستا نیکونو په مسجد کی په لټی عمر تیر کړي
ته دهغو سوړ سوک خورو نواده او کنهوسه یی
سردی ښکته کړه ګریوان ته پاچاهی دی دنده نه دي
ځکه ته په انتظار د خیرات اوشکرانه یی
«مل» هویت ستا تعریف کړچي ته هم یوڅه پوه شي
ته هیڅوخت نه سرې کیږی که راغلی له مکه یي

*****

پوهندوی دوکتور سیدحسام «مل»

جرمنی2023-07-17